# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد | بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم | از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com | afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|


انجمن اجتماعی زحمتکشان افغانستان

۲۸ جنوری ۲۰۱۳

# «زیار» د زیارکښانو آواز د زیارکښانو تر څنګ

«زیار» د افغانستان د زیارکښانو د ټولنیز انجمن خپرونه ده چې د زیارکښانو آواز او هنداره ګڼل کیږي. د افغانستان د زیارکښانو ټولنیز انجمن په ۱۳۸۹ کال کې د یوه صنفي انجمن په توګه د زیارکښانو لخوا جوړ شوی دی. دا انجمن چې د زیارکښانو د حقوقو او هیلو مرکز دی، له نیکمرغه د انسان وژنکو دښمنانو د ډالرو په زور نه چلیږي او یوازې یوازې د زیارکښو کارګرو، دهقانانو، ښوونکو، انجنیرانو، ډاکټرانو، موچیانو، درزیانو، آهنګرانو او نورو بیوزلو زیارکښو انسانانو لخوا یې ملاتړ کیږي او په خپله د زیارکښانو په مټ او توان چلیږي.

د «زیار» په لومړي مخ کې دا شعار لیکل شوی دی.«د زیارکښانو لپاره کار، ډوډۍ، جامې او کور». دا شعار باید خپله واقعي مانا پیدا کړي. پخوا ځینې ستمګرو د دې شعار ځینې برخې په جنایت او خیانت لړلی دی، خو موږ زیارکښان هڅه کوو چې په واقعي او پاکې صنفي مبارزې او هڅې سره د دې شعار واقعي مضمون راڅرګند کړو. د دې شعار هدف دا نه دی چې موږ ګني د اوسني دولت او د هغې د بم اچونکو خارجي دوستانو څخه دا شیان غواړو، بلکې هدف دا دی چې زیارکښان باید په مستقل ډول مبارزه وکړي څو وکړای شي د ژوند هوساینې او برابرۍ ته ورسیږي.

«زیار» خپرونې تل هڅه کړې چې د ولسونو دردونه او رنځونه، ربړونې او کړاونه، هیلې او آرزوګانې منعکس کړي. د زیارکښانو تر څنګ ودریږي او د زیارکښانو آواز ووسي. د همدې لپاره د جدي په نولسمه، په هغه ورځ چې د یکاولنګ د زیارکښو شهیدانو دولسم تلین د بامیان د یکاولنګ ولسوالۍ د بیوزلو او شریفو انسانو لخوا لمانځل کیده، د هغوې تر څنګ وردید او د دې زیارکښو دهقانانو او کارګرانو او کسبګرو یاد یې ولمانځو.











